# کوهسار باقي افغان باقي

دوېمه برخه

ځلان مومند

سحر وختي د افغانستان خارجه دفتر ته رسېدل وو، چرته چې په جنوبي اېشيا کښې د عدم تشدد د تحريکونو او نظرياتو په حواله د يو بېن الاقوامي سيمينار بندوبست شوے وۀ. داؤد مراديان چې د سنټر فار سټرېټيجک سټډيز ډائرېکټر جنرل دے يو خوش پوش او ښکلے سړے دے. نن سبا په افغانستان کښې تقريباً په ټولو اعلي او ښو عهدو هغه خلق لګولي شوي دي چا چې د بهر ملکونو نه تعليمونه کړي دي. شايد د دې وجه دا وي چې افغان صدر حامد کرزي صاحب د امير کروړ د وختو يادګارونو پورې ټيټوبې کوي. (علامه عبدالحئ حبيبي چې کومه تذکره د پټه خزانه په نوم دريافت کړې ده د هغې مطابق د پښتو وړومبنے شاعر امير کروړ دے. افغان صدر صاحب چې د هغې په حقله د کومو خيالاتو اظهار کړے دے د هغې ذکر به په دې کالمونو کښې وروستو راشي)

يوه ورځ اګاهو د داؤد مراديان سره ملاقات کښې راته دا معلومه شوې وه چې مونږ به سحر وختي اتۀ بجې هلته رسوي. د دې مطلب دا وۀ چې د پاکستان د عوامي وخت مطابق اووۀ نيمې بجې او د سرکاري وخت مطابق مونږ له اتۀ نيمې بجې تيارېدل پکار وو. په داسې هنګامي حالاتو کښې اکثر زمانه خوب وتښتي خو دا وخت راته يوه مسئله دا راپيښه وه چې په فخر افغان خان عبدالغفار خان کومه مقاله ما ليکلې او هلته به مې اوروله د هغې کتل ضروري وو خو ما دا نۀ غوښتل چې يو خو دې خپله مقاله لولم او بل دې اسوېلي کوم. ملګري اودۀ شوي وو، زۀ هم اودۀ شوم خو ځان ته مې ځلور الارمونه لګولي وو. ګړۍ مې د افغانستان ګړو سره برابر کړې نۀ وه نو د هغې يوه فائده دا وشوه چې د وخت نه وړاندې تيار شوم او په زړۀ زړۀ کښې خوشحالېدم چې د هر چا نه اول تيار شوم خو ډاکټر مروت صاحب دربشي اغوستې په لابي کښې د افراسياب خټک صاحب سره په خبرو مشغول وۀ. زما په نزد سحر وختي پاڅېدل يو ناخوښه عمل دے او څوک چې سحر وختي پاڅي د هغوي متعلق زما رائې هم څۀ خاص نۀ ده. زما يو دوست چې مونږ سره ئې يو اخبار کښې کار کولو هغه به همېشه ناوخته راتلو اخر يوه ورځ ورته مدير صاحب ووې چې تۀ په وخت دفتر ته ولې نۀ راځې؟ نو هغۀ ورته په جواب کښې ووې چې صاحبه مونږ صحافيان يو، پې نۀ خرڅوو. د هغۀ په خيال سحر وختي پاڅېدل صرف د پيو خرڅونکو دپاره ضروري وو او حقيقت هم څۀ داسې دے. ګورئ کنه صحافيان تر نيمې شپې عوامو ته د خبرونو رسولو په خاطر خپله ډيوټي کوي د هغې نه پس کور ته لاړ شي او چې اودۀ کېږي اودۀ کېږي نو درې بجې شوې وې نو په داسې صورت کښې د هغوي نه د وختي

پاڅېدو توقع لرل چې سحر وختي د اخبار تقسیمولو په وخت به ابغ نبغ او تیار ناست وي څهٔ عجیبه غوندې ده. د کومو خلقو شپې چې د عوامو د ورځو روښانه کولو په غرض تېرېږي هغوي له یو خاص رعایت نهٔ ورکول زیاتے دے. خبره رانه کومه خوا لاړه. نو په مقرر شوي وخت مونږ د بسونو، موټرو او جیپونو په ذریعه دفتر خارجه پله روان شو. هلته زمونږ استقبال د اوچتو مرتبو شخصیاتو وکړو. په کوم هال کښې چې د سیمینار انتظام شوے وۀ هغه ډېر ښائسته کړے شوے وۀ. د سنګار طرز مغربي وۀ، په مېزونو وچې مېوې، اوبهٔ او ورسره مائیکونه او هېډ سیټونه هم پراتهٔ وو د کومو په ذریعه چې د پښتو او درۍ تقریرونه په انګرېزۍ او د انګرېزۍ هغه په پښتو او درۍ کښې اوربدلے شو. هر څو که ترجمه ښه نهٔ وه خو دا کوشش ئې د ستائنې قابل وۀ.

د وړومبني نشست په مجلس صدارت کښې محترم افراسیاب خټک صاحب، افغان وزیر خارجه رنګین دادفرسپانتا او د هند د منصوبه بندۍ د کمېشن غړې محترمه سعیده حمید شامل وو. مرادیان صاحب افتتاحي خبرې په دري ژبه وکړې. محترمه سعیده حمید صاحبې د مهاتما ګاندهي او باچا خان په تحریکونو یوه ډېره پُرمغزه مقاله واوروله چې زیات زور پکښې د ښځو په مسئلو ورکړے شوے وۀ. رنګین دادفر صاحب هغه تقریر ولوستو کوم چې هغوي له لیکلے شوے ورکړے شوے وۀ. مونږ پرې پوه ځکه نهٔ شو چې د هغوي خطاب په دري ژبه کښې وۀ او مترجم ئې زیات قابل اعتبار نهٔ وۀ. محترم خټک صاحب په موجوده صورت حال کښې د عدم تشدد په اهمیت یو فې البدیه تقریر وکړو او د سیاسي واقعاتو په رڼا کښې ئې د پاکستان د مستقبل یو پُرامیده تصویر وړاندې کړو. په افغانستان کښې د امریکې د یونیورسټۍ طالب علمې مریم هوتکې د امریکنې اشتراکي ګلوکار جان لېنن د یو اقتباس نه د امن دعا ولوسته او د افغانستان د طالب علمانو هلکانو او جینکو دپاره ئې د خېرسګالۍ خبرې وکړې. د دې نه پس د چایو وقفه وکړې شوه. د چایو نه پس د تهران یونیورسټۍ ډاکټر مولاهي خپله مقاله ولوسته چې په فارسي ادب کښې د امن او برداشت په موضوع لیکلې شوې وه. د دوي د تقریر په روح کښې چې کومه خبره موجوده وه هغه د ایران د انقلاب نه چاپېره چورلېده او د ملائیت اظهار ئې هم ډېر په شدت کولو. مونږ هغه وخت زیات حېران شو کله چې د افغان وزارت خارجه په بلنه یو جاپانے مقرر د تقریر کولو دپاره حاضر شو. د افراسیاب خټک صاحب زلمي زوي خوشحال چې کله زمونږ توجه دې پله راواړوله نو په مسکا ئې مجبوره کړو.

په دې سیمینار دري ژبه دومره زیاته سوره وه چې د بیان نه بهر خبره ده. د حېرانتیا مقام دا وۀ چې د بنګله دېش غړے هم په درۍ کښې شروع شو خو وروستو معلومه شوه چې انګرېزي وائي او مونږ هېډ سیټ لګولے دے. د دې نشست اخري تقریر کونکے د باچا خان ملګرے سرمحقق عبدالله خدمتګار بختاني وۀ. شاید په پښتو کښې د تقریر کولو وجه وه چې هغوي ته زر زر د خپل تقریر ختمولو احکامات ورکولے شو اخر تنګ شو او خپل تقریر ئې نیمګړے پرېښودو. دغه وخت د لونګین خان او خوشحال خان طبیعتونه ناځاپي خراب شو او روتې ئې هم ونهٔ خوړې شوه. زهٔ هم د ملا درد په

مخه اخستے وم. د هوټل بستره د ناقابل بیان حده پورې نرمه وه او زما بدن د هغې سره بلد نۀ وۀ. ما خپل تقریر چې په دربو ژبو کښې چاپ کړے راوړے وۀ د کانفرنس منتظمینو ته وسپارۀ او خپلو ملګرو سره په یو ذاتي ګاډي کښې هوټل ته راغلم. په دوېمه ورځ معلومه شوه چې زمونږ دغه پاڅېدل هغوي واک آؤټ ګڼلے وۀ. په دې غلط فهمۍ مونږ چپ پاتې شو او څۀ وضاحت مو څکه ونۀ کړو چې زمونږ اراده هم د واک آؤټ وه.

په کابل کښې د وزارت خارجه د سیمینار نه د واک آؤټ یا زر وتلو نه پس چې هوټل ته ورسېدو نو د ملا درد مې ډېر زیات شوے وۀ. ما لونګین خان او خوشحال خان ته تجویز پېش کړو چې د ارام نه بل ښۀ مصروفیت نشته چونکې د هغوي دواړو طبیعتونه هم ښۀ نۀ وو نو هغوي زما دا تجویز منظور کړو. خو وروستو معلومه شوه چې زما دې تجویز سره هغوي جزوي اتفاق کړے وۀ یعني زۀ ئې اودۀ پرېښے یو صاحب کابل کښې خپلو دوستانو له تللے وۀ او دوېم صاحب د وزارت خارجه عشائیې له روان شوے وۀ. خوشحال خان خو دومره کړي وو چې زۀ ئې خبر کړے وم، د هغۀ خواهش وۀ چې لونګین خان هم ورسره لاړ شي خو لونګین خان د کمرې ور نۀ بهرته کولو. ما خوشحال خان ته ووې چې تۀ لاړ شه د هغۀ طبیعت هسې هم ښۀ نۀ دے زۀ ئې یواځې پرېښودے نۀ شم. وروستو معلومه شوه چې څۀ وخت مونږ لونګین خان ته ور ډبولو نو دغه وخت هغه په کابل کښې د خپلو دوستانو سره په بازارونو کښې ګرځېدو او سېلونه ئې کول او چې واپس راغے نو دا ئې هم راته ووې چې ما ستا د پاڅولو ډېر ناکامه کوششونه وکړل خو تۀ رابېدار نۀ شوې څکه نو زۀ لاړم. د دې مطلب دا وۀ چې زما خوب واپس راغلے وۀ. زړۀ کښې ډېر خوشحاله شوم چې یو څو ګېنټې مې ډېرې په سکون تېرې کړې دا بیله خبره ده چې دغې ارام د ملا درد ختم نۀ کړو خو دومره وه چې لږ ذهني ارام راته میلاؤ شو. د شپې روټۍ مونږ د لونګین خان کمرې ته راوغوښته. د هغوي دوستان ډاکټر فضل او ډاکټر آیت الله هم موجود وو. هغوي مونږ له تاجکستان ته د تللو بلنه هم راکړه خو هغوي ته مونږ څۀ وئیلے وے چې تاجکستان ته خو مونږ هغه وخت هم نۀ وو تللي کله چې زمونږ د نزدې ملګري ډاکټر فضل الرحیم مروت ساډو بریګېډئر عبدالمجید هلته د سفیر په توګه مقرر شوے وۀ. د هغوي دعوت مونږ د شکرېې سره قبول کړو. چې ډاکټر مروت صاحب راغلو نو هغوي خبر کړو چې په سیمینار کښې د افغانستان مشهور دانشور جناب سرور ماموند په باچا خان او د هغۀ په افکارو او د موجوده چېلنجونو په حقله ډېره پُرمغزه مقاله واوروله او د افغانستان د علومو اکادمۍ د عابد صاحب نوم ئې هم واخستو چې د هغوي مقاله د مهاتما ګاندهي د اسلام او هندومت باره کښې د خیالاتو په حقله وه او د افغانستان د تعلیم د وزارت له اړخه ښاغلي جامدار صاحب په جنوبي ایشیا کښې د عدم تشدد د تحریکونو د اثراتو په حقله خپله مقاله واوروله. د سیمینار په اخري نشست کښې د جاپاني سینیټ محترم غړي ټاډاشي اے نوزوکا د دوېم جنګ عظیم د صلحې تجربې بیان کړې او افغانستان کښې د امریکې د یونیورسټۍ ډاکټر شریف فیاض د جنوبي ایشیا په مجموعي ماحول تنازعات یا تعاون په موضوع مقاله پېش کړه. د سیمینار اخري مقرر د اسلام آباد

پالیسي ریسرچ انستي ټیوټ مشر پروفېسر ډاکټر مقصود الحسن نوري وۀ چا چې د جنوبي اېشیا د سلامتۍ په حواله خپلې رايې پېش کړې. وروستو د مذاکرې اهتمام هم وشو چې شریکو خلقو پکښې ډېره په مینه برخه واخسته. مونږ ته دا هم ووئیلي شو چې د سیمینار کوم رونق سحر وۀ هغه اخر کښې دومره نۀ وۀ پاتې. سحر هال سراسر ډک وۀ او اخر کښې دا حال وۀ چې د مرکزي مېز ګېر چاپېره نشستونه اکثر خالي پراتۀ وو. دا حال پېښور کښې هم وي، خلق د یو خاص هدف دپاره داسې تقریبونو کښې شرکت کوي او دغه هدف حاصلوي او د اکثرو خلقو مقصد خوراک څښاک وي او هغه ورته په اسانه په لاس ورشي. ما نه دا پوښتنه هېره شوه چې مې ترې کړې وې چې زمونږ د قومي ژبې سره نور څۀ وشو ځکه چې زۀ د ملا درد ډېر په مخه اخستے وم. دوېمه خبره دا وه چې مونږ له محترمه ظاهره خټک ډېره لویه تسلي راکړې وه چې په دې مسئله به هغه ضرور خبره کوي.

## د رسول امین صاحب په وفات تعزیتي غونډه

د باچا خان ریسرچ سنټر یوه تعزیتي غونډه د باچا خان ریسرچ سنټر د چئیرمېن ډاکټر فضل الرحیم مروت په مشرۍ کښې تېره ورځ باچا خان مرکز پېښور کښې وشوه. په دې اجلاس کښې د محترم رسول امین په وفات د غم او درد څرګندونه وشوه او د هغوي روح ته د ثواب رسولو په خاطر فاتحه ولوستې شوه. په دې غونډه کښې د مرحوم په ژوند او خدماتو خبرې اترې وشوې او د هغوي وفات د ټولو پښتنو دپاره لویه سانحه وګرځولې شوه.

رسول امین صاحب مرحوم د افغانستان د جمهور رئیس حامد کرزي په وړومبۍ عبوري کابینه کښې د تعلیم وزیر پاتې شوے وۀ. امین صاحب د اسلامیه کالج د خېبر یونین جنرل سېکرټري هم پاتې شوے وۀ او د پېښور یونیورسټۍ نه ئې په پولیټیکل سائنس کښې ایم اې کړې وه. د ثور د انقلاب نه پس په پېښور کښې د ازاد افغانستان د لیکوالو د انجمن مشري ئې هم کړې وه او د دغه تنظیم له خوا ئې په پښتو، دري او انګرېزۍ درېو واړو ژبو کښې ګڼ شمېر مجلې خورې کړې وې.

د باچا خان ریسرچ سنټر ټول کارکونکي د هغوي د کورنۍ خصوصاً د هغوي د کُنډې ترور بي بي او د هغوي د بچیو سره ځان په دې غم کښې برابر شریک ګڼي او د لوئي الله نه د هغوي د بخښنې او د پسماندګانو دپاره د صبر دعا غواړي.

په دې تعزیتي غونډه کښې ډاکټر فضل الرحیم مروت، ځلان مومند، مشتاق مجروح یوسفزي، ډاکټر محمد زبېر حسرت، امجد شهزاد، سعید عالم بابا، عبدالله وردګ، احسان او ناصر شرکت وکړو.